# د عبدالروف بېنوا سبک

# Literary Style of Abdurauf Benawa

Mahammood Merhoon [1]

Abdul Rauf Benawa is among the five most celebrated academicians of Pashto language (aka Five Stars) who has written numerous fiction and non-fiction books in Pashto in both prose and poetry covering history, literature and so forth. A thorough research of a literary academician is writing style is the best way to reach the depths of his thought. The author of this essay has strived to research the writing style of Benawa's prose and poetry.

استاد عبدالروف بېنوا د پښتو معاصر ادب د پنځو ستورو څخه یو دے چې په پښتو ادبیاتو کښې ئې زیات شمېر تاریخي، علمي او څېړنیز اثار په نظمي او نثري چوکاټ کښې مونږ ته را پرې ایښې. د یوه ادیب د پېژندنې له پاره د هغه د سبک څېړل د هغه د مفکورې و عمق ته د ورکښته کېدو تر ټولو ښه لاره ده په دغه مقاله کښې کوښښ شوے چې د استاد بېنوا د نظم او نثر سبکي ځانګړتیاوي تر یوه ځایه و کتل شي.

سبک لغتاً د سرو زرو په غالبونو کښې اچولو ته وائي، چې له عربي ژبي څخه راوتلې یوه کلمه ده، او په عربي ژبه کښې سبکه د سرو زرو ټوټې ته وائي. مګر په اصطلاح کښې د یوهٔ شاعر، لیکوال، هنرمند او بل هر ډول کارکوونکي هغه ټاکلې او ځانګړې لارې ته وائي، چې د هغه د لارې ځانګړنې د نورو ورته خلکو په لارو کښې نه لیدل کېږي او په سبک کښې تر ټولو مهمه خبره همېشه دا ده چې یو سبک باید پیروان و لري، که چېرې پیروان و نه لري، بیا هغه سبک نه بلکې طرز یا ډول بلل کېږي. مثلاً:د احمد د لیکنې ډول، د محمود د نقاشۍ ډول، د احسان د شاعرۍ ډول. مګر که چېرې څو طرزونه سره یو ځاے شي، بیا یو سبک منځ ته راوړے شي . مونږ په پښتو ادب کښې داسې څو په شمار شاعران لرو، چې خپل ځانګړے سبک لري، لکه حمید مومند، خوشال خان خټک او نور.

1 Lecture, at Department of Languages and Literature Kabul University, Afghanistan.

مګر د دوی طرزونه هغه وخت په سبکونو بدل سوي چې ځان ته ئې پیروان پیدا کړي او تر هغه وخت چې پیروان ئې نه درلودل لا طرز بلل کېدل.(۸- ۴۰)

مونږ په دغه لنډه مقاله کښې د پښتو ژبې د معاصرو ادبیاتو د یوه ښکلي شاعر، لیکوال، مورخ او نقاد پر سبک غږېږو چې د لیکنو، شعرونو او نقد سبک ئې څه ډول دے په دې مقاله کښې به د ادب مینوالو ته له یوې خوا د سبکي څېړنې لارې ور و ښودل شي او له بله اړخه به د پښتو ادب د ځلانده ستورو د یوه ستوري له سبک څخه پرده پورته شي.

## اصلي متن

د سبک په اړه اوسنۍ نظر تر ډېره ځایه داسې دے چې د یوۀ چا د کار د طرز هغه ډول ته وائي چې د هغه ارواېي حالت مونږ ته څرګند او ښکاره کړي . عبدالروف بېنوا د هغه لیکوالو له ډلې څخه دے چې هم په نثر او هم په شعر کښې خپل ځان ته سبک او لاره لري . کله چې مونږ د پښتو ادب پر ادب تاریخونو نظر اچو د تذکرو په اړخ کښې د عبدالروف بېنوا د افغانستان نومیالي، اوسني لیکوال او پښتني مېړمني هغه اثار دي چې د عبدالروف بېنوا د خوارۀ نثر څخه پرده پورته کوي. کله چې بیا د هنري نثر پر لور ګام اخلو په لومړي قدم کښې مو د عبدالروف بېنوا د زړۀ خواله هغه اثر دے چې سرے د لاهوت اسمان ته الوځوي. عبدالروف بېنوا په خپل نثر او نظم کښې د خپلو خاصو او ځانګړو ښو په خاطر مونږ د خپل سبک په درلودونکو کښې درو.

بېنوا په لومړي قدم کښې د نثر د شاعرانه کولو تر ټولو لوے کمال لري د هغه نثري اثار چې لولی د شاعرانه تعالي ښتې په کښې له ورایه ښکاري او شوک فکر کوي چې نثر نه بلکې شعر لولي، د دغې نثري ټوټې په ویلو سره به مونږ خپله دغه ادعا د زبات تر کوره و رسو:

آه! د سګرېټ دوده!
چې نیمه شپه شي ځان بیدار کړه
چې پکښې واورې د ویشتلو فریادونه (پښتو لنډۍ)

د کوم بې نیازه په یاد یوائې په بستر کې پروت او د دې نیمې شپې په فضا کې ستا ننداره کوم؟

د سپوږمۍ رڼا ته ښه ښکارې، په څه مستۍ له خولې راوزې او د سر دپاسه مې نڅا کوې، ورو ورو پورته کېږې.

آه ! تر يوې ثانئې وروسته بيا څه شې ؟

آيا ته د نامراد مېين د سوي زړګي له آرزوګانو څخه ترکيب شوے نه ئې؟

آيا ستا سره هر وار د ناکامي مېني سارۀ سارۀ آهونه په فضا کښې نه خپرېږي؟

ته چېرې ځې؟

د مين د مقصد لور ته روان ئې، که د عدم؟ پوهېږم چې زما د زړه خبرې له ځانه سره وړې، مګر کوم ځائے ته؟

بيا به بيرته راوګرځې؟ او که به د نامرادي نجلۍ د ژوند په شان د ټولو اميدو سره محوه شې ؟

نيمه شپه ده، ګرده خلك بيدۀ دي، د رحمت دروازې خلاصې، او د عاصيانو مناجاتونه قبلېږي، مګر افسوس ...

زما آه بې اثره، او آرزو مې بې نتيجې ده.
نو اې وروستنے دوده !
تر هغه چې فضا تا محوه کړي، زما بې نيازي ته ورسه او د الهام
غوندې ورته ووايه :
"مين دې يوائې دے.!(۹-۶۸)

ښاغلي بېنوا نه يوائې دا چې خپله ئې په هنري نثر کښې دونه ښه ليکل کول بلکې له نورو ژبو ئې هم په دونه مهارت سره په هنري نثر ژباړې راکړې چې تر خپل اصلي متن لا سرې ښه ايسي، زما د پورته خبري زبات تاسي د رابيندر نات ټېګور د ګيتانجلي په ژباړه کښې ګټلے شئ چې يوه کوچنۍ نمونه ئې زۀ دلته ستاسې مخ ته بږدم:

تا زه لامحدود پيدا کړم ستا رضا دغسې ده.

دا د (وجود) ناموزه او نازک لوښي ته په وارو وارو تشوې او تل ئې په نوي ژوند ډکوې. ته له وروکې شپېلۍ سره پر غرو او رغو باندې ګرځې را ګرځې او تل په دې شپېلۍ کښې نوي نغمې پو کوې.

ستا د لاسو د غير فاني مښود ځخه زما زړګوټے په خوښي کښې خپل حدود هېروي او په داسې خبرو لګيا شي چې په بيان کښې نه راځي.

ستا بې پايه نعمتونه زما دې کوچنيو لاسو ته را رسي زماني تېرېږي خو اوس لا هم ته هغه نعمتونه اوروې- آيا نور لا هم د سمسورولو دپاره ځاے پاته دے؟. (٤: ٩٢)

دوهمه موضوع د بينوا په ليکونو کښې د متروک لغاتو ده چې بېنوا په خورا مهارت سره په خپلو ليکونو او شعرونه کښې مونږ ته را پرې ايښي . تاسې په دې لاندې څو نمونو کښې و ګورئ:

بيا ئې و څکل له کم خمه ډک جامونه
دا د هسک پېغله چې ناځي له جنونه
له خندا ئې د غاښو ځلا برېښنا سوه
مرغلرې لونوي، پر سنګېړونه (۱-۷۲)

په پورته دوو بيتونو کښې تاسې ګورئ د هسک کلمه چې په پخوانيو ادبياتو کښې د اسمان په مانا کارول شوې يا هم لونوي کلمه چې د شيندلو او نثار کولو په مانا کارول شوې ده او يا هم سنګېړونه چې د لويو ډبرو په مانا په پخوانيو متون کښې کارول شوي دي. و ګورئ په پنځمه هجري پېړۍ کښې د اسعد سوري قصيده:

۱: د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سنګارونه
بيا ئې و ولونل په غرونو کښې لالونه
۲: زرغونه مځکه کښې ځل کا لکه ستوريه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپين ګلونه
۳: هر پلو رڼې والې بهاندې خاندي
له خوښيه سر وهي له سينګړونه	( ۵: ۵۰۰ -۵۰۱)

او یا هم:

وابه نه ورمه له حقه
دا مې ستاسې سره بول دے(۱-۱٦۰)

عبدالروف بېنوا په پښتو ادب کښې د مخمورې شاعرۍ له مخکښو يو بلل کېدے شي، د هغه په اشعارو کښې ډېر ځايونه د مخمورې شاعرۍ ډېرې ښې بولګې شته د مثال په توګه:

مسته وينه د مست تاک را
دې بې وا که زړهٔ ته واک را
د نانک بابا روح ښاد کړه
زاړه مې په دې ويساک را(۱-۱۸۰)

يا هم دا چې:

د اوبو پر غاړه کښېنه شراب نوشه
په صحت د زړه د غم دې شراب نوشه
د ريا له زهده زړه په ميو مينځه
ليرې کړځه له مکاره خرقه پوشه(۱-۱۸۱)

د ټولنې له روحه خبرتيا او د ټولنې په غوښتنو باندې سم پوهېدل د ډېرو وېښو ليکوالو کار دے چې عبدالروف بېنوا په دغه اړخ کښې تر ټولو ماهر دے هغه د ټولنې له غوښتنو او اړتياو سره سم روان دے. په بېلابيلو اړخونو کښې ئې د ټولنې غوښتنې ور پوره کړې دي.

ټولنيزه وېښتابه د هر ملت تر ټولو ستر ارزښت دے استاد عبدالروف بېنوا په دې اړخ کښې تر سلګونه ځايه ډېر دغه ټکي ته پام کړے لکه دے چې په دې شعر کښې وائي:

سر تر پايه سره لمبه سوم
روغ زړګے مي سوے سکور سو
نه ايرې نه مي دود ښکاري
بل راباندې څنګه اور سو

نه لمبه مې سوه خاموشه
نه رڼا دا تياره کور سو
په نارو مې ګل ويښ نه سو
څه عبث مې د خولې شور سو
آه سپېره لو هديره ده
ټوله مړه دي - ټوله مړه دي
که زاړه دي که واړه دي(۳- ۸۱)

يا هم دا چې:

پېړۍ واوښتې، خو خلک لا بيده دي
ويښول ئې ډېر کلونه زحمت غوړاي
په ړندو سترګو د اور پر خوا ور درومي
دا کم بخته لا نشه د جنت غواړي(۲- ۲۱)

ښوونه او روزنه د ټولنې بنياد جوړوي ارواښاد بېنوا په دې اړخ کښې هم يو متوجه سړے دے او هميشه ئې په خپلو ليکونو کښې دغه ټکي ته په خورا ښه توګه انعکاس ورکړے دے، د بېنوا د خاندان خولې اثر زمونږ د دغه خبرې د زبات له پاره ښه دليل کېداے شي او يا هم تاسي په دغه شعر کښې د ارواښاد بېنوا د ښووني او روزني مفکوره په ښه توګه ليدلاے سئ:

د زړګي سر ئې زما
د ژوند ثمر ئې زما
نورالبصر ئې زما
شيرين پشر ئې زما
هله پاڅېږه زويه
راپورته کېږه زويه
زويکه لمر ختلے
وطن ئې ټول نيولے

حال د ویدني تللے
وخت د ویښتوب راغلے
مکتب ته ځي هلکان
د وطن نوي زلمیان
هر څوک کارونه کوي
خپل روزګارونه کوي
تر اخیره پوري....(۱- ۸۸)

کله چې د بېنوا دغه شعر تر پایه و ګورئ چې اروابناد بېنوا په ټولنیزه ارواپوهنه کښې څونه مخکښې دے او د ټولنې په روح او روان څونه اګاه دے.

هغه د ټولنیز رغاوي او بدلون له پاره تر ټولو علاقمند شخصیت وو او د هغه د شخصیت دغه بعد په لیکونو او سبک کښې د یوه یاغي او مبتکر شاعر په حیث خورا په شور او ږوږ باندي راغلے دے د هغه د غلي شانته انقلاب شعر په هغه شهکار شعرونو کښې شمارلاے سو چې د بېنوا د شاعرۍ انتخاب بلل کېداے شي، چې داسي دے:

نسیم ووې د ګل غوږ کښې بد سو د یاراني رنګ
غلے شانته انقلاب بدلوي د زمانې رنګ
ورسره نوي رنګونه، رنګا رنګ تحولونه
کړي سمسور به باغ راغونه
موسم دے هم بدل شوے د بلبل تراني رنګ
غلے شانته انقلاب دے بدلوي د زمانې رنګ
دړي وړي زوړ رباب دے، زوړ مطرب خانه خراب دے
زوړ آهنګ د روح عذاب دے
نوے ساز نوے آواز دے هم سو نوے د نغمې رنګ
غلے شانته انقلاب دے بدلوي د زمانې رنګ (۱-۱۰۱)

ښاغلے دین محمد ژواک د بېنوا د دغه شعر په اړه یو خورا تاریخي او عالمانه نظر لري دے وائي:

((ښېنوا استاد د شعر د کلاسیک استادانه نظر، فورم او محتوی سره یوه نوې رنګینه امتحاني الوتنه هم لري او د شعر په ژبه د نړۍ د بدلون رمز څرنګه ښایي؟ دا برخه د پښتو شعر د شعري سیر لومړۍ تکاملي پوړۍ ته بیایي.)) (٦: ٣٦)

مینه د ژوند اساس دے . هر شاعر شاعري له مینې را پېلوي په غنایي شاعرۍ کښې ښېنوا بلا کوي د خپلې مینې طنازۍ او د خپل جنون سرحدونه په ډېره بې باکۍ ماتوي هغه د هر څه په وړاندې یاغي دے او ټول سرحدونه ماتوي مګر د مینې په وړاندې تسلیم دے . د هغه مینه یوائځې تصنوعي او مجازي نه ده هغه په خپل جانان کښې کله نا کله حقیقي جانان او د دنیا او مافیها د مالک پر خوا هم ورځي . دغه خوي او عادت د خان غني خان او استاد ښېنوا مشترکه خاصه ده چې یو ډول تر یاغتوب او جنونه رسېدلے زرین انځور په خپله یوه مقاله کښې چې ( د یو ښېنوا او یو غني) تر سرلیک لاندې ئې لیکلې ده له ماسټر عبدالکریم حواله را اخلي: (( غني نه چا پسې تللے شي او نه به لاړ شي، ځکه چې غني شاعر دے او تقلید د شاعر مرګ او بغاوت د هغه ژوندن دے)) او خپل بحث داسې پر زیاتوي ((دغه شاعرانه بغاوت د ښېنوا او غني دواړو په شعرونو کښې ځان څرګندوي، د غني په شاعرۍ کښې یو څه زیات او د ښېنوا په شاعرۍ کښې یو څه کم . زه فکر کوم چې د استاد ښېنوا د مستي او رندانه شاعرۍ ډېرې ښکلې نمونې به د ( د حالاتو د تقاضا) له مخې نه وي چاپ شوي او کوره چې بیا به تر لاسه شي او که نه؟)) (٧: ١٥٢)

د هغه د لیونۍ مینې د ښکاره کولو له پاره به لاندې څو بیته وئیل بد نه وي:

ښایسته ستوري د مینې
هر سهار را پورته کېږي
د اسمان پر تندي باندې
لکه خال غوندې ځلېږي
تر نظر مي هر څه لاندې
کائیناتو ته مسېږم
پورته کښته په جهان کښې
و هر چا ته ښه ښکارېږم

جمادات که حیوانات دي
دا ټول ویښه تېرېږمه
داسي تر اخیره ...(۳- ۹۱)

د استاد بېنوا دغه شعر که تر اخیره پورې و لولئ نو تاسې به د انسان د مینې ببلابېلې غمازې پکښې و ګورئ چې د نړۍ هر انسان عاشق او هر څوک د خپلي مدعا له پاره خپله لاره لري .

په شاعرۍ کښې منظر کشي د شعر خوند یو په څو کوي او استاد بېنوا په دغه چار کښې تر بل هر چا ډېر برلاسے دے. د هغه اکثره شعرونه تصویري دي یعني لوستونکي ته یوائې الفاظ نه ور اوري بلکې تصویرونه هم په وینې تاسې د بېنوا دغه منظر کښي په دې لاندي څو بېتونو کښې ګټلے شئ :

ارغنداو د غرو لمنې
د غاټول په ګلو سرې شوې
د دامان هوسۍ دي مستې
زرغونې ورته درې شوې
د باغو ونې وینښېږي
د بلبلو پرې ناري شوې
آسمان مځکه ټوله خاندي
نوې نوې نندارې شوې
واه، دا څه نوے ژوندون دے
دا نسیم راغے له کومه
چې ئې نوے روح وطن ته
و باسه له خپل قدمه(۱- ۱٤۳)

استاد بېنوا کله نا کله په خپلو اثارو کښې له طنزي روشه هم کار اخلي او د هغه ډرامې زمونږ د دغې خبرې د زبات له پاره ښه دلیل دے.

ترانې په پښتو ادب کښې ډېرو محدودو خلقو ليکلې دي . استاد بېنوا په هغه ګوتو شمار کسان کښې يو دے. هغه د بېلابېلو طبقاتو له پاره بېلابېلې خوږې ترانې ليکلې دي، د هغه تر ټولو مشهوره ترانه د افغانستان ملي سرود وه چې د ترانې په فورم کښې ليکل شوے دے او داسې دے:

څو چې دا مځکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند پر دې جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
ملي وحدت – ملي وحدت(۱-۱۸۷)

**پايله**

د استاد بېنوا د جهان پېژندنې له پاره مونږ يوه رساله څه چې پوره کتاب ليکلے شو، د هغه د شعر او نثر خوږ والے او روان والے هغه څه دي چې چا ته د څېړنې له پاره ډېر زيات مواد په لاس ورکوي د هغه څېړه او درنه د وينا ژبه له داسې ډېرو خوبيانو څخه مالامال ده چې تر اوسه لا چا نه دي را سپړلې د بېنوا له دنيا څخه د پرده پورته کېدلو په حقله زه خپله دغه وړه هڅه پر دې ژمنه را ټولوم چې د بېنوا جهان ته به په لا منظمه او ښه توګه د ژبپوهنې او ادبپوهنې له دروازې سر ور ښکاره کوم او په پوره توګه به دا په راتلونکې کښې په زبات رسوم چې د بېنوا نثر او شعر له ټولو بېل او ځان ته سبک لري .

## ماخذونه

۱: بېنوا، عبدالروف،(۱۳۷۸). د بېنوا شعري کليات. د هيواد نشراتي ټولنه.
۲: بېنوا، عبدالروف (۱۳۹۱).اوسني ليکوال. علامه رشاد خپرندويه ټولنه.
۳: پټيال، عبدالقديم،(۱۳۸۹).پردېس بېنوا. د کندهار اطلاعات او کلتور رياست.
۴: ټاګور، رابندر اناتهـ (۱۳۹۷). ګيتانجلي (مترجم: استاد عبدالروف بېنوا). کابل: سروش ګڼاپلورنځی.
۵: حبيبي، پوهاند عبدالحی. (۱۳۸٤). د پښتو ادبياتو تاريخ. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
۶: رشاد، پوهاند اکاډمېسن عبدالشکور. (۱۳۸٤). د بېنوا ياد. کندهار: علامه رشاد اکاډيمي.
۷: روهيال، مطيع الله. (۱۳۹۰) بېنوا يادونه. کندهار: د اطلاعات او فرهنګ رياست.
۸: مرهون،محمود،(۱۳۸۷).د پښتو شعر مانوي توکي. کائينات خېړنيز او ژباړې مرکز، مستقبل خپرندويه ټولنه.
۹: مرهون،محمود،(۱۳۸۷). نثر، کائينات خېړنيز او ژباړې مرکز، مستقبل خپرندويه ټولنه.